# زېرى

علمي- څېړنيزه او ادبي پنځلس ورځنۍ جريده — د تاسيس کال ۱۳۱٦ هجري شمسي

سه‌شنبه، (۷- ۸مه) ګڼه، درېيمه دوره، پرله‌پسې (۳۵۱- ۳۵۲مه) ګڼه، د ۱۳۹۹ل.کال د سرطان (چنګاښ) د مياشتې ۳۱مه، د ۱۴۴۱هـ.ق. کال، د ذوالقعدې د مياشتې ۲۹مه او د ۲۰۲۰ز.کال، د جولای


څوک چې مري د ننګ په کار کښې سعادت دی
هر چې وتښت له دې کاره ملامت دی
په عزت ګرځي هم هغه په جهان کښې
چې نيولی يې دامن د لوی همت دی

اشرف خان هجري

## په پښتو کې حنان نومي شاعران




بشرمل زرغون


د څو کلونو وړاندې خبره ده، د ښاغلي زکريا ملاتړ يو کتاب (پښتو ادب او طالبان) مې لوسته، په نوموړي کتاب کې هغه شاعران راپېژندل شوي چې له نامه سره يې د طالب کلمه راغلې، موضوع يې ځانګړې کړې او زما ډېره خوښه شوه[1].

له دې وروسته مې يو وخت په (الفت) مجله کې د ښاغلي ډاکټر ميا سهيل انشاء يوه ليکنه (په پښتو ادب کې حميد نامي شاعران) ولوسته، دغه ليکنه هم دې ته ځانګړې شوې وه چې د چا په نامه کې د حميد نوم راغلی؛ نو هغه ټول يې راپېژندلي دي[2].

يو څه وخت وروسته مې د استاد هېوادمل يو ترتيب شوی دېوان وکوت، چې د قلندر دېوان په نامه د افغانستان د علومو اکاډمي چاپ کړی و، په سريزه کې يې د قلندر نومو شاعرانو په اړه لنډه؛ خو هر اړخيزه څېړنه کړې وه، پوره، بشپړ او کره معلومات يې وړاندې کړي وو، تقريباً په پښتو ادب کې يې د قلندر په نامه څلور شاعران راپېژندلي دي[3].

تر دې وروسته مې يو وخت په کابل مجله کې د استاد علي محمد منګل په يوې ليکنې (په پښتو ادب کې شېرمحمد نومي شاعران) سترګې ولګېدې، تقريباً په دې نامه يې اووه کته شاعران راپېژندلي وو او موضوع يې همدې شېرمحمد نامو شاعرانو ته ځانګړې کړې وه[4].

له دغو لنډو يادونو څخه زما موخه دا ده چې که په همدې ډول په پښتو ادب کې په يوه نامه څو کسه تېر شوي وي او څېړنه په دې ډول وشي چې دوی ټول سره جلا او بېل شي او بيا يې د وينا بېلګې هم سره جلا شي؛ نو وروستيو څېړنو ته يو څه اسانتياوې رامنځته کوي.

د همدغو خبرو د تاييد لپاره موږ په پښتو ادب کې د (حنان) په نامه درې شاعران لرو، کېدای شي نور هم وي؛ خو زما د معلوماتو او ادبي تذکرو له کتنو وروسته همدا درې تنه راتر سترګو شوي دي.

د دغو درېواړو شاعرانو لنډه پېژندګلوي په لنډه توګه له ادبي بېلګو سره رااخلم:

### ۱: ميرزا حنان بارکزی



دی د پښتو يو نوموتی شاعر دی، يو په زړه پورې دېوان لري، نوموړی موږ ته په پښتو ادب کې د لومړي ځل لپاره د پښتانه شعراء، دويم ټوک له لارې راپېژندل شوی؛ سربېره پر دې په پښتو ادبياتو تاريخ درېيم ټوک، پښتو ادب تاريخ، افغانستان، د کندهار مشاهير، ۳مخ

## د ژبې پېژندګلوي




څېړنپوه مولا جان تڼيوال


که د ژبې د پيدايښت تاريخ ته وکتل شي؛ نو د سړي په ذهن کې دا پوښتنه خطور کوي چې ايا انسان د دې توان نه درلود، چې د ژبې د موجوديت څخه پرته ژوند وکړي؟ د دې پوښتنې ځواب خورا اسان دی او يواځې په دې ټکي سره ځوابېدلای شي چې نه. انسان ګوښی او په يواځې ځان د دې توان نه درلود چې په تنهايۍ سره ژوند وکړي، د وحشي حيواناتو څخه خپل ځان وژغوري او د ژوند نيمګړتياوې پوره کاندي. همدې ستونزو، کړاونو او... دې ته اړ کړل، تر څو يوه داسې وسيله په واک کې ولري چې د ده د ژوند د دوام لپاره ضروري او اړينه وي. د انسانانو د درک له مخې ژبه تر نورو وسيلو غوره وګڼل شوه.

له دې خبرې څخه هيڅوک سترګې نه شي پټولای چې انساني ژبه په لومړي سر کې ډېره لنډه او تنګه وه او دومره نه وه پراخه لکه اوس چې ده. د دې يادونې ثبوت په دې کې پروت دی چې انساني ژوند هم په پيل کې ډېر primitive لنډ او تنګ و. څومره چې انساني ژوند تحول کاوه ژبې هم بدلون مونده، خو دا لړۍ د سترګو د رپ غوندې نه وه او ورو، ورو پرمخ روانه وه. د انسانانو د ډله ييزې اوسېدنې، ګروپي ژوند او بالاخره ټولنيز ژوند په سبب د لا ښه پوهاوي په خاطر د ژبې جوړښت پياوړی کېده او لغوي ذخيره يې زياتېده. دا اوږده لړۍ په پای کې دې ته را ورسېده چې د نړۍ پر مخ ډېرې ژبې راوټوکېدې او پايله يې دا شوه چې تر شلو زياتې ژبنۍ کورنۍ ترې منځته راغلې.

په دې سره د ژبو پېژندګلوي اسانه شوه او د نړۍ ژبې د ورته خصوصياتو له مخې په بېلا بېلو کورنيو پورې اړوندې وبللې شوې. داسې هم شوې چې ډېرې ژبې د ډول ډول وجوهاتو په سبب له منځه تللې دي او اوس د مړو يا متروکو ژبو په نوم تش په علمي- څېړنو او سرچينو کې يادونه ورڅخه کېږي. د اهميت وړ ټکی ۳مخ

## ځنګه ښه ليکوال کېدای شو؟


ليکوال: حسين قرباني

ژباړنه: نازو کمال




ليکوالان معمولاً له دې پوښتنې سره ډېر مخامخېږي، چې آيا ښه ليکوال دی که نه؟ خو په اصل کې ستونزه هغه وخت رامنځته کېږي چې د ځان پر وړاندې يې دا ډول شک او وهم د تخريبېدو لامل شي. دا موضوع هر ستر ليکوال ته پېښېدای شي، ځينې کسان يو ليکوال خوښوي، خو د ځينو ښايي هماغه ليکوال هيڅ خوښ نه شي. مګر دا موضوع په دې ډېره ښه ده چې د ليکوال ښه‌والي او بدوالي په خلکو پورې اړه لري، ځکه په دې برخه کې يو بشپړ او ټاکلی قانون نه شته؛ نو موږ اړ يو چې لاندې پوښتنې ځواب کړو:

۱ـ که د ښه ليکوال په نوم څه ونه لرو، نو څه به پېښ شي؟

۲ـ که يواځې اغېزمنې ليکنې ولرو او د ښې او ناسمې ليکنې په نامه څه نه وي؟

۳ـ پر همدې اساس که غواړئ چې بل ځل يو څه وليکئ، په افکارو او ليکنو کې به مو کوم توپير راشي؟

د ښې ليکنې لپاره هيڅ جامع او بشپړ قانون نه شته، بلکې دا افسانوي خبرې دي. هغه فکر چې موږ يې د يوې ښې ليکنې په اړه کوو يواځې له ځانګړي مخاطب سره د ښه او ګټور ارتباط ټينګول او په سمه توګه د خپل پيغام رسول دي او چې څومره ژر پر دې موضوع وپوهېږو هغومره به پر خپل کار بر لاسي شو، نو د ښې يا ناسمې ليکوالۍ په نامه څه نه لرو. يواځې هڅه وکړئ چې اغېزمن ليکوال شئ.

څرنګه پر اغېزمن ليکوال بدلېدای شو؟ په دې برخه کې شپږ ټکي څرګندوو:

۱ـ مطالعه وکړئ: ښه ليکوال ډېره مطالعه کوي، په اغېزمنو ليکنو کې کلمې؛ لکه په رګو کې وينه داسې مثال لري، نو د دې لپاره چې د ليکوالۍ مهارت مو لا پياوړی شي، ليکوال ته له مطالعې پرته بله ارزښتمنه لاره نه شته.

۲ـ يو ايډيټر ولرئ: يو ښه ليکوال په دې پوهېږي چې مرستې ته اړتيا لري، ځکه د ليکوالۍ کار په يواځې ځان نه شي کېدای. تاسې داسې يو چاته اړتيا لرئ چې باور درباندې ولري، ستاسو ليکنې ولولي او نقد يې کړي. ښه ده چې يو مبتدي ليکوال ښه دوست ولري.

۳ـ مفکورې وليکئ: يو ښه ليکوال تل د تخليقي توکو د راټولولو په حال کې وي. مفکورې هنرمن او ليکوال ته الهام وربخښي. تاسې يو سيستم ته اړتيا لرئ چې دغه مواد په کې ثبت کړئ، هڅه دې وشي تل يوه کتابچه درسره ولرئ او هر فکر مو چې په ذهن کې راګرځي ۳مخ

## د مرکبو ويېونو يوځای ليکل سم دي که جلا؟

(پانګه وال) که (پانګوال)




څېړنوال محمد آصف احمدزی


مرکبې کلمې چې له دوو مورفيمونو څخه جوړې وي، د ليکلو بڼه يې به بېلابېلو ځايونو کې دوه ډوله تر سترګو کېږي؛ يوه بڼه يې داسې چې دويم ويی يا روستاړی له لومړي مورفيم يا کلمې سره يوځای ليکل کېږي؛ لکه وسلوال. بل ډول يې داسې دی چې دويم ويی يا روستاړی ترې جلا ليکي؛ لکه وسله وال.

دا چې د دغسې کلمو کوم ډول ليکل يې سم او د ژبپوهنې له اصولو سره برابر دي، دلته پرې بحث کوو.

کله چې يوه کلمه له دوو مورفيمونو جوړه وي، نو که لومړی مورفيم (اصلي لغت) په کانسوننټ ختم شوی وي، ورپسې مورفيم ښايي ورسره يوځای وليکل شي، خو که لومړی مورفيم په واول پای ته رسېدلی وي؛ په ژبپوهنه کې يوه عامه قاعده ده چې وايي: هغه اسمونه چې په خپل بنيادي جوړښت کې يې خجنه (a) په پای کې موجوده وي، دغه خجنه (a) يې نه حذفېږي؛ لکه وسله + تون = وسله‌تون يا: زېرمه + تون= زېرمه‌تون. دغه راز په کلمو کې د فشار مسئله هم مهمه ده، که فشار د کلمې په پيل کې وي، کلمه يو ځای او که په پای کې وي، کلمه جلا ليکل کېږي.

په لومړۍ قاعده کې موږ د لومړي مورفيم (اصلي لغت) او دويم مورفيم ترمنځ کوم واول فونيم نه لرو، نو که يو ځای وکښل شي، ستونزه نه پېښوي او بله دا چې په دغه ډول کلمو کې فشار په اخر کې نه وي؛ لکه ولسوال، خوستوال، ښاروال، بهسودوال، ليکوال، خپلوان، روغتون، پښتونولي، کتابتون، ګډونوال، تلپاتې، پښتونولي، پښتونخوا، بنسټپال، ليکدود، مخنيوی.

په دويمه قاعده کې چې د کلمې لومړی مورفيم په واول پای ته رسېدلی او خج هم پرې راغلی وي، په داسې کلمو کې د لومړي مورفيم وروستی واول نه غورځي او دويم مورفيم بېل ليکل کېږي. په دې سره د هغې کلمې تلفظ اسانېږي او هم د التباس مخه نيسي؛ لکه وسله‌وال، برخه‌وال، پانګه‌وال، سيمه‌ييز، کره‌کتونکی، سيمه‌وال، کامه‌وال، نشه‌يي، ښه والی، سوله‌مل. د بېلګې په توګه که (وسله‌وال) يو ځای وليکل شي، يعنې (وسلوال) شي، نو ځينې لوستونکي ښايي هغه په بله بڼه ولولي، کېدای شي د (وسله) کلمې (ل) ته غږوندی (سکون) ورکړل شي، چې يوه بې معنا کلمه به ترې جوړه شي.

پورتنی اصل موږ په مرکبو ويېونو کې هم پلي کولی شو؛ لکه ولسمشر، منځلاری، ليکلړ، ځانمرګی، لمنليک، لاسليک او داسې نور چې لومړی مورفيم په کانسوننټ ختم شوی دی او که پای يې په واول شوی وي؛ نو بيا ښه داده چې جلا وکښل شي؛ لکه پانګه‌وال.

پوښتنه داده چې د (پوهنتون، روزنتون، پوهنځی، ژبپوهنه، لوبغالی، لوبغاړی...) کلمې ولې پيوست يا يو ځای ليکل کېږي؟

د دې ځواب ژبپوهنه داسې ورکوي چې هغه اسمونه يا فعلونه چې په خپل بنيادي جوړښت کې په بې خجه (a) پای ته رسېدلي وي، کله چې ورپسې د (ځی، تون، يار، وال) وروستاړي راشي، دغه بې خجه (a) حذفېږي؛ لکه پوهنه + تون = پوهنتون، يا پوهنه + ځی = پوهنځی، همداسې پوهنوال، پوهنيار... هم درواخله. دغه راز دلته د واولونو د غورځېدلو فونولوژيکي عمليه سرته رسېږي چې همدغې ډول عمليې ته په فونولوژۍ کې سينکوپ (syncope) وايي. په سينکوپ کې خجن واول ته څېرمه واول حذفېږي، مثلا په پښتو کې د (ځی، تون، وال او يار) روستاړي په کلمو کې تر ټولو دروند خج اخلي، که د دغو روستاړو د مخه د کلمې په اصلي او بنيادي جوړښت کې سپک او بې خجه واول موجود وي، نو د دغو خجنو روستاړو په راتلو سره حذفېږي؛ لکه

pohənton = tun + pohəna

پوهنه + تون= پوهنتون

يا:

pohənzay = zay + pohəna

پوهنه + ځی = پوهنځی

يا:

lobɣālay=ɣālay + loba

لوبه + غالی = لوبغالی

د پايلې په توګه ويلی شو، هغه کلمې چې لومړی مورفيم يې په واول ختم شوی وي، که همدا واول خجن وي، واول پر ځای پاتې کېږي ورپسې مورفيم بېل ليکل کېږي؛ لکه پانګه وال. که همدا واول خجن نه وي واول غورځي، ورپسې مورفيم ګډ ليکل کېږي؛ لکه پوهنتون، پوهنځی... او که د کلمې لومړی مورفيم په کانسوننټ پای ته رسېدلی وي، ورپسې مورفيم ګډ ليکل کېږي.

## سرمقاله

# که کرونا سره ووېشلو؛ ټکنالوژۍ بیرته سره یو ځای کړو

د یوویشتمې پېړۍ د دویمې لسیزې په پای کې د کرونا په نامه وبا د چین له هېواده سر را پورته او په ډېر کم وخت کې یې له ختیځه تر لوېدیځه پر ټوله نړۍ باندې وزرې وغوړولې؛ لکه څنګه چې په لومړیو کې ویل کېدل، دا ناروغۍ له اسمان څکالو نه انسانانو ته راغلې، د دې ناروغۍ جال هم د اسمان څکالو د وزرونو په څېر اوږده و. که له ډېر کم ځای یې سر راپورته کړ، خو وزرونو یې پر ټولنه نړۍ باندې د وېرې جال وغوړول.

د دې ناروغۍ لوی تاوان دا و چې د انسانانو ترمنځ یې واټنونه ایجادول، د ډاکټرانو لومړۍ لارښوونې همدا وې چې له یو او بل نه په واټن کې واوسئ؛ غونډو کې ګډون مه کوئ او په سرپټو ځایونو کې مه سره راټولېږئ. دې هر څه انسان په همدې فکر کې اچول چې څنګه له نورو انسانانو ځان ګوښه کړم. دې وبا په پسرلي کې دلته هم ځان را ورسول، څنګه چې پسرلی زموږ په هېواد کې د نوي ژوند پیل وي، په بوټو کې نوې سا چلېږي، ځمکه خپله سپینه برستنه ټولوي او پر ځای یې زرغونه برستنه له ورم سره غوړوي؛ نو د شاعرانو، لیکوالو او د ادب مینانو، چې زیاتره یې د ښه او عالي ذوق خاوندان دي، هم راټولېدو ته زړه کېږي. د هېواد له یوه سره نیولې تر بله سره د خوږ-وږمو بوټو په نومونو مشاعرې جوړوي، ترڅو د نوي موسم راتګ ته خپله روحي لېوالتیا څرګنده کړي او د مځکې د یو بل ژوند لپاره هرکلی ووایي، چې پیل یې زیاتره وخت د ننګرهار د نارنجو له خوږو وږمونو نه کېږي، د انارګل، منې ګل، بادام ګل او ان تر نښترونو پورې رسي.

سږکال په داسې غونډو کې څه چې ان خلکو ته جوماتونو ته د نه تګ مشورې ورکړل شوې وې، که څوک به تلل هم باید روغتیايي لارښوونې یې په کلکه مراعات کړې وای. جومات ته تګ چې دومره سخت وو داسې غونډو کې ګډون به له لېونتوب نه خالي نه و، ټکنالوژۍ خپله مېرانه په دې وخت کې وښودله، څومره چې وبا سره لرې کولو؛ هغومره ټکنالوژۍ بیرته له یو بل سره نږدې کړو.

دا چې زموږ هېواد هم یو مخ پر وده هېواد دی، له ټولو ناخوالو، جګړو او در به دریو سره ټکنالوژۍ پرمختیايي بهیر له نورو نه په ښه حالت کې دی. د همدې ټکنالوژۍ د پرمختګ په برکت زموږ زیاتره غونډې او مشاعرې پر لیکه (انلاین) وشوې. د دې غونډو ډېرې ګټې وې، یو دا چې زموږ زیاتره لیکوال او شاعران د نړۍ له ګوټ ګوټ نه سره یو ځای شول؛ بل لګښت یې کم و، هر شاعر او لیکوال په ډېر کم لګښت له خپله کور نه په دې غونډو کې ګډون کړی و، موږ به دلته د تخنیکي ستونزو او کیفیت خبرې نه کوو، یواځې غواړم د داسې غونډو پر دوام او ارزښت لږې خبرې وکړم.

پرلیکه غونډو سږ کال د کرونا ناروغۍ پرمهال وښوده، چې زموږ د راتلونکي ژوند یوه برخه همداسې کېدای شي، چې موږ به په ډېر نږدې راتلونکي کې د خپلو بوختیاوو له کبله اړ یو چې غونډې پرلیکه وشي. ادبیات ورځ په ورځ د انسانانو بوختیاوو او نویو غوښتونو سره خپل لوري بدلوي، یو وخت به په اوږدو شپو کې لوی لوی رومانونه لوستل کېدل، خو ډېرو بوختیاوو انسانان اړ کړل چې نور دومره اوږدې کیسې نه واوري او نه خپل د کارونو وخت له لاسه ورکړي، ناولونه پیل شول، خو لا ډېرو بوختیاوو بیا انسانان اړ کړل چې له ناول نه هم په لنډو ځیزونو باندې فکر وشي، هغه و چې لنډه کیسه رامنځ ته شوه.

د انسان بوختیاوې ډېرې شوې، خو د انسان د فطري طبعیت له مخې چې اړ دی، د ټولو ځیزونو ترځنګ ښکلي او هنري لیکنې (ادبیات) ولولي، اړ شو چې څه باید ولولي هغه دی چې کیسه ګۍ رامنځ ته شوه. دا د غربي نړۍ ادبي پنځونې وې، په شرقي ادب کې تر نثر شعر ته ډېر ارزښت ورکول کېږي، ځکه خو شعر د عالي ادب په نوم نوموي. دلته هم هغه وخت چې خلکو بوختیاوې نه وې، د خپل ذهني تسکین او ادبي تندې د خړوبولو لپاره به یې اوږدې قصیدې لیکلې او اورېدلې یا زموږ په فولکلوري ادب کې به اوږدې- اوږدې چاربیتې، بدلې، لوبې او اوږده داستانونه اورېدل. د ژوند ډېرو بوختیاوو له کبله اوږدې قصیدې خپل ځای غزل ته پرېښود یا که نور هم څرګند ووایو د قصیدې هغه ډېره هنري او زړه وړونکې برخې ته خپل ځای خوشې کړ. اوس دا د ژوند اړتیا شوې. له خلکو سره دومره وخت نه وي، چې اوږدې اوږدې کیسې واوري او خپل وخت پرې ونیسي، نورو سیمو ته سفرونه لنډ او اسانه شوي، د ژمي اوږدو شپو د لنډولو لپاره بې شمېره ژوندۍ کیسې( فلمونه- سریالونه) جوړ شوي، نو کم وخت ورسره وي چې د خپله ذهني ستړیا د ختمولو او د ښکلا خوښونې ذوق د پاللو لپاره یو څه ولولي او یا یې واوري.

ادبیات د انسانانو د راتلونکې ژوند لوري ته تر هر بل علم نه مخکې سر ورښکاره کوي او د اوسني حالت له لوري نه موږ کولی شو چې د خپل ژوند راتلونکې تصور کړو. دې غونډو نه هم خپلو ځانونو ته دا پته لګولی شو، چې زموږ د ژوند راتلونکې ډېر ناستې به پرلیکه وي، انسان به له نورو سره وي، خو مخامخ به ورسره نه وي ناست، بلکې یوازې په سکرین او غږ به سره تړلي وي.

| لنډه کیسه |

ژباړن: څېړنپوه دوکتور سیدمحی الدین هاشمي

## لاسکا

هغه تېره ورځ چې کله له پله نه تېرېدم، ډېر سخت باران اورېده، د سیند اوبو زېړ رنګه ځګونه کول او په چټکۍ روانې وې. سره له دې چې هوا ډېره سړه وه، بیا هم ښځې او نر د پله پر سر ولاړ او پرته له دې چې د باران زیاتوالی په پام کې ونیسي، لاندې یې د سیند خواته کتل.

یوه پیشکه د سختو څپو په منځ کې په ډوبېدو وه، په ډېرې وارخطایۍ یې لاس و پښې اچولې، رښتیا چې یوه ډېره وېرونکې ننداره یې جوړه کړې وه. د پیشکې سترګې چې رډې راوتلې وې، د ډېرې هیلې او زاریو په یو ګډوډ حالت یې خلکو ته کتل، مګر چا هم د هغې د ژغورنې لپاره له ځایه حرکت نه کاوه.

همدغه مهال یو لوی سپي، چې اوږدې وړۍ او غټې ځلېدونکې سترګې یې لرلې، هلته پر لاره تېرېده؛ ناڅاپه ودرېده؛ ویې کتل؛ سمدلاسه یې اوبو ته ورټوپ کړ او یوه شیبه وروسته خپل دښمن له مرګه وژغورله. هغه یې د سیند پر غاړه په ځمکه پرېښوده او پرته له دې چې د خلکو د شاباسي غږونو ته پاملرنه وکړي، له هغه ځایه په چټکۍ سره روان شو. دغې منظرې زما ذهن ته یوه کیسه راوسته، چې دلته یې تاسو ته وایم:

په (هارو) کې راته یو سپی معلوم و، چې لاسکا نومېده. دغه سپی وړوکی او په یوه پښه ګوډ و. هم مړسترګی و او هم ډېر ناولی، په ښۍ سترګه ړوند و او له کیڼې سترګې یې، چې ظاهراً روغه ښکارېده، اوبه روانې وې. وړۍ پرې زیاتې، پمنې، له خاورو او دوړو ډکې وې. نژاد یې دنړۍ له مشهورو سپیو سره هېڅ سمون نه درلود. یوه ورځ مازیګر ((روبر)) په داسې حال کې چې له نشې څخه یې ځان نه پېژاند، پریوه او بله خوا ړنګ بنګ روان او تیندکونه یې خوړل، دا سپی یې له کوڅې نه په غېږ کې ونیو او کورته یې بوت. وروسته له دې یې د هغه د وجود ټپونه پرېمینځل، د هغه پښې او سرېې په سپینه پټۍ وتړل.

لاسکا دا جراءت نه شو کولی چې روبر وڅټي، په داسې حال کې چې له ډېر خجالت نه یې خپله لکۍ ښوروله او غوښتل یې چې له دې ډېرې مینې او لورېینې نه، چې د ده په باب شوې وه، مننه وکړي.

روبر دومره ستړی و چې یوه شېبه وروسته په خواږه خوب ویده شو. پر سبا چې کله هغه له خوبه راپاڅېده، د سپي په لیدلو حیران شو. لاسکا پخپلې یوې سترګې هغه ته کتل او خپله وړه لکۍ یې خوځوله. د روبر ذهن ته د تېرې شپې حالات لږلږ راتلل او دا چې نشه یې له سره تللې وه، غوښتل یې چې سپی له خونې څخه بهر کړي، خو لاسکا یوه غم ځپلې بڼه خپله کړې او په ډېره هیله یې داسې مړاوې مړاوي روبر ته ورکتل چې هغه یې له خپل هوډ نه راوګرځاوه.

روبر او لاسکا دوه کاله سره یوځای ژوند وکړ. په دې دومره موده کې یو وخت داسې هم راغې چې لاسکا د کوڅې له نورو سپیو سره په جګړو کې خپله بله سترګه هم له لاسه ورکړه، اوس به نو هغه د خونې له کونج څخه نه خوځېده.

له دې سره- سره هم روبر ته لاسکا ګران و، خو له دومره ګرانښت او مینې سره بیا هم کله داسې نه وو شوي چې روبر دې د هغه پر سر یا نور ځان لاس ورتېر کړی وي. لاسکا هم له هغه څخه دا هیله نه درلوده، خپله ناوړه بڼه او نیمګړتیا یې پوره درک کړې او هغه یې د ځان په وړاندې یوه نه بښل کېدونکې ګناه ګڼله. لاسکا د هغې ښځې په څېر چې زړښت ته ورسېږي او د خپل ژوند ملګري ته، چې هغه ډېر ځوان وي، بې له درناوي څخه په بل څه نه وي قایله، له روبر څخه یې له یوې مړې ډوډۍ پرته بل څه نه غوښتل.

یوه میاشت ورسته لاسکا ډېر سخت ناروغه او بالاخره د وجود زور او ځواک یې له لاسه ورکړ. روبر نه غوښتل چې پر هغه خپل لاسونه ناولي کړي، ځکه چې په هارو کې د سپیو کوم روغتون نه و، په دې هوډ شو چې لاسکا سیند ته وغورځوي، په همدې هیله او تکل هغه یوې ډېرې تورتم شپې ته سترګې پر لار و.

بالاخره په یوه توپاني شپه، کټ مټ د هماغه شپې په شان چې سپی یې له کوڅې نه راپورته کړی و، لاسکا یې په غېږ کې ونیو او د سیند پر لورې روان شو، سیند ښه په زور او شور کې و، مستې څپې یې وهلې. روبر د یوې ډبرې له سر نه لاسکا، چې غاړې یې د سختې تبې له امله تپونه کول، لاندې سیند ته ور وغورځاوه. لاسکا هیڅ شور او فریاد ونه کړ، یوازې اوبو ته د هغه د بې ځواکه وجود د غورځېدو آواز واورېدل شو.

روبر چې له خپل دغه عمل څخه څه نا څه خجالت او د شرم احساس یې کاوه، د هغه د لیدلو لپاره یې د سیند خواته خپل سر لږ ورښکته کړ. باد یې خولۍ اوبو ته وغورځوله، دا خولۍ یې هغه ته خپلې لومړنۍ مېرمنې د یادګار په توګه ورکړې وه.

هغه چې هر څومره خپلې سترګې د اوبو پرخوا ښکته په ځیر ځیر وګرځولې، د اوبو د څپو له سپینو څنډو یې نور څه و نه لیدل په ډېرې خواشینۍ او اندېښنې بیرته راستون شو، البته د لاسکا لپاره نه، بلکې د خپلې هغې خولۍ لپاره چې د مېرمنې د لاس وروستۍ نښه یې وه. نږدې یو ساعت وروسته چې هغه په خپله بستره کې ویده و، یو داسې غږ، لکه چې څوک په دروازه خپلې خپړې لګوي، هغه له خوبه راویښ کړ. په ډېرې چټکۍ سره د وره خواته ولاړ، کله چې هغه دروازه بېرته کړه. لاسکا یې مخې ته ولاړ او د ده خولۍ یې پخپلو غاښونو کې نیولې ده، ویني او اوبه یې له وړیو لاندې پر ځمکه څڅېږي. داسې ښکارېده لکه چې هغو دواړو ړندو سترګو یې سپین رنګ خپل کړی او هر څه ویني. روبر هغه په غېږ کې ونیو او ښکل یې کړ. لاسکا یو ځل بیا خپله لکۍ وخوځوله ورو شان فریاد یې وکړ، خو معلومه نه شوه چې دا د هغې خوښۍ فریاد و چې د خپل خاوند د ښکلولو له امله یې وکړ او یا دا چې په دغه فریاد سره یې وویل ولې دې دومره ژر هېر کړم؟!

## ادبي اصطلاح

څېړندوی رحیم الله حریفال

### سرود

په فرهنګونو کې یې د سرود لپاره لاندې معناوې لیکلي دي:

(سُ) [په.] (اِ.)

۱- نشاط بخښوونکی آواز.

۲ - حماسي شعر چې په ځانګړي آهنګ ویل کېږي.

۳ - هغه آواز یا نغمه چې یو یا څو تنه یې په ځانګړي آهنګ او طرز وایي.

په (دهخدا ) فرهنګ کې بیا د سرود د کلمې په اړه داسې راغلي دي:

دا کلمه پهلوي کلمه ده چې د »سروت « په بڼه ویل کېږي، په بلوچي ژبه کې (سروده)، په پښتو ژبه کې سرود، په اوستایي ژبه کې (سروانه) ویل کېږي.

سرود د شعر له هغو ډولونو څخه دی چې له ځانګړي اغېز څخه برخمن دی. له شور او ولولو سره مل وي. د همدغې ځانګړې اغېزمنتیا له امله یې هېوادونه د خپلو ملي بیرغونو په څېر د خپل ملت د احساساتو د لوړولو او یوالي په موخه د ملي هویت په توګه انتخابوي او ملي سرود یې بولي چې همدا په خپله ملي سرود هم د سرودنو له ډولونو څخه دی.

وایي سرود د یوه ملت ژبه ده؛ نو ځکه ویل چې سرود د ډله‌ییزو احساساتو د لېږد ځانګړې وړتیا لري، یو ملت په کې خپل احساسات په غوره توګه بیانولی شي، په طبیعي توګه سرود له حماسې او ټولنیزو ډله‌ییزو مسایلو سره یو ځای دی او د ټولنیز ژوندانه په بېلابېلو څانګو کې یې ځای موندلی دی. سرود کولای شي چې د یوه هېواد په کچه دود شي او د یوه ملت د حال او شعار په ژبه بدل شي. په تاریخ کې وینو چې په جنګونو کې به جګړییز سرودونه په لنډ او ساده ډول ویل کېدل. په مذهبي برخه کې ګڼ سرودونه موجود دي. د بېلګې په توګه په اسلام کې د حج په مراسمو کې په ډله‌ییزه توګه «لبیک اللهم لبیک...» لرو چې ټول حاجیان یې اللهﷻ ته د قرب او نږدېوالي لپاره په ځانګړي وقار سره تکراروي.[1]

۱. http://farsi.khamenei.ir/others-note?id=33766

### تانکا (Tanka)

تانکا د لنډ شعر هغه ډول دی چې پنځه کرښې وي، د څپو شمېر یې له ( ۳۱ ) څخه نه اوړي.

چاپاني تانکا معمولاً ( ۵ ـ ۷ ـ ۵ ـ ۷ ـ ۷ ) وزن درلودنکې ده.

تانکا د جاپاني شعر په ډولونو کې له ( ۳۱) څپو څخه جوړ شعر دی، چې په ترتیب سره لومړنۍ کرښه یې (۵) څپې دویمه یې (۷) څپې، درېمه یې ( ۵) څپې او پاتې دوه نورې مسرې یې (۷) څپېزه دي. تانکا په لغت کې د (لنډ) شعر په معنا ده، د جاپاني شعر له کلاسیکو ډولونو څخه دی چې لرغونتوب یې (۷) مې ز پېړۍ ته رسېږي.

سره له دې چې تانکا د ایماژیزم ادبي ښوونځي له الهام بخښونکو شعرونو څخه ده، ولې تر اوسه په لوېدیځ کې د هایکو په اندازه نه ده پېژندل شوې. لومړنۍ تانکاوې د سرګرمۍ په موخه ویل شوې دي.

په عنعنوي تانکاوو کې هم د هایکو په څېر له انځورونو څخه ګټه اخیستل کېده چې په ډېر دقت سره انتخابېږي او په هغه کې شاعر څرګنده خبره نه کوي، بلکې په ډېر ظرافت سره په ذهنونو کې صحنې راژوندۍ کوي. په تانکا کې په عمومي توګه له طبیعي تصویرونو څخه کار اخلي؛ لکه (سپوږمۍ، د خزان پاڼې، واوره او...).

**د تانکا بېلګې:**

**ژباړه**

په دې نیمه شپه کې
چې حتی بودا
د خوبونو د لیدلو لپاره ویده شوی دی
څوک د غله په توګه
د معبد ناقوس کړنګوي؟

## په پښتو کې حنان...

آریانا دایرةالمعارف، د سره غره ګلونه او د ده چاپي دېوان په نامه کتابونو کې تقریباً یو ډول یاد شوی دی، په پښتانه شعراء دویم ټوک کې راغلي چې نوموړی د محمدحسن زوی، د کندهار د (مرت کلا) کلي کې یې استوګنه کړې او د خپل وخت په پیاوړو او خوږژبو ادیبانو کې لومړی ادیب بلل کېږي.

دی د مرحوم سردار مهردل خان له ادبستانه په ( ۱۲۵۰ هـ ق) کې راوتلی دی او دا ښکاره کېږي، چې میرزا حنان له هغه ادیب سردار سره ډېره مینه او اړه درلوده، عمر یې موږ ته پوره نه دی ښکاره؛ مګر دومره معلومېږي، چې سپین ږیری و؛ خو په یو ځای کې دی خپله دېرش کلنی داسې راښیي:

**ستا له غمه نه یم څه یم چې دا هسې**
**لا د دېرشو کالو نه یم موی مې سپین شو**

ژوند یې تر (۱۲۷۱ هـ ق) پورې یقیني دی او دا ځکه چې د پښتون ادیب سردار مهردل خان مرثیه یې په همدې کال ویلې ده[۵].

د دغه نوموتي حنان نومي پښتون شاعر په باب ویل شوي، چې نوموړي پښتو او فارسي شاعري کړې؛ خو موږ ته یې تر دې دمه پښتو شاعري معلومه ده، دیوان یې څو ځله چاپ شوی دی. لومړی په ۱۳۱۶ل کال کې د پښتو ټولنې له خوا په لویه کچه، اخباري کاغذ کې د کابل مجلې له خوا چاپ شوی دی. دوه ځلې د محمد معصوم هوتک په سریزې چاپ شوی، لومړی ځل په ( ۱۳۷۰ ل) په کوټه کې د صحاف نشراتي موسسې له خوا، پنځه سوه ټوکه او دویم ځل په (۱۳۹۰ل) کې له څه زیاتونو سره زر ټوکه بیا هم د صحاف نشراتي موسسې له خوا چاپ شوی دی، له دغو ټولو چاپونو سره- سره د دغه نازکخیاله او منل شوي شاعر بشپړ او کره متن تر دې دمه نه دی چاپ شوی، د وروستي چاپ په تمه یې یو.

حنان بارکزی په پښتو ادب کې د حمید بابا د سبک پیرو بلل کېږي، ډېر نازکخیاله شاعري یې کړې ده، د شعر په دنیا کې ښه مبتکر او بدیع فکره شاعر تېر شوی، د (مدعا مثل) ادبي صنعت استاد بلل شوی، استاد غضنفر یې د همدې صنعت یو تخلیقګر بولي[۶].

**دا غفلت نیولی زړه به رېز مرېز کم**
**ماتېده د زنګ وهلي قلف کلي ده**

په پښتو ادب کې زموږ دغه حنان نومی شاعر د خپلو ویناوو پر اساس د کندهار دی او په شعرونو کې خپل نوم حنان او کله میرزا حنان راوړي:

**پرې خپه به ګلرخان د کندهار وي**
**چې په مرګ ولاړ شي حنان رنګه بلبله**

\- - -

**له حنانه قرار څه غواړې ناصحه!**
**چې رسوا کړ دا ستا عشق په کندهار**

\- - -

**دا له غمه د کوم مخ میرزا حنانه**
**له ژړلو چې مې نه درېږي سترګې**

دلته به یې د ښه پای په پار یوه خوږه غزله د بېلګې په توګه راوړو:

**چې راپېښه د دلبر د مخ برېښنا شوه**
**زما د سترګو له اورو ژړا په دا شوه**

**دا د کوم ګلرخ د خولې په خیال کې هسې؟**
**په ګلشن کې د غونچې شګوفه وا شوه**
**چې ایرې پاشي پر مخ له لېونتوبه**
**آیینه د چا د دید په تمنا شوه**
**دا د کوم صیاد د شست له ذوقه هسې**
**چې ملا خُمه د لېندۍ هسې دوتا شوه**
**له کامله عشقه فیض عاشق یوسې**
**دا ړنده زلېخا څه رنګه بینا شوه**
**دا چې ته ورغلې باغ لره ګلرخه!**
**له هوسه غونچه څکه په خندا شوه**

**چې په طمع د وصال هجران کباب کړ**
**د حنان په خاطر هغه پېښه دا شوه[۷]**

### ۲: عبدالحنان طالب

دغه حنان نومی پښتون شاعر هم موږ ته په پښتو ادب کې د لومړي ځل لپاره پښتانه شعراء، دریم ټوک کې راپېژندل شوی، ویل کېږي چې نوموړی یو خوږ ژبی ملي شاعر و، اصلي ځای یې ننګرهار، د روداتو حصارک دی، د (۱۲۹۵ هـ ق) شا و خوا کې یې ژوند کاوه.

د پورته لیک پر اساس دغه حنان نومی پښتون شاعر د ننګرهار د سیمې یو خوږژبی شاعر تېر شوی، اشعار یې زیاتره عشقي رنګ لري، په شعرونو کې یې له مانوسو تشبېهاتو او معمولو محاورو څخه ډېره ګټه اخیستې ده، د ده له شعر و شاعرۍ سره د ننګرهار سیمې زیاتره خلک اشنا دي؛ په تېره د سندرغاړو خولو ته خو ډېر ښه رسېدلي وو؛ نو له دغې لارې دی ډېر په طالب حنان مشهوره شوی چې د طالب له نومه داسې برېښي، چې ده یو څه دیني زده کړې هم کړې وې[۸].

د نوموړي حنان نومي شاعر نوره شاعري تر دې دمه موږ ته په لاس نه ده راغلې؛ یوازې یوه خوږه غزله یې دلته له پښتانه شعراء، دریم ټوک څخه د خپلې وینا د غوره پای په پار راوړم:

**د محبوبې لیدل هسې مزه دار و**
**خوار مین ورته له ورایه ناقرار و**

**په جبین یې د سرو ټیک ځلېده هسې**
**د ابرو په منځ یې شین خال تاڼه دار و**
**کړې ورځې یې لېندۍ د باجوړ دي**
**باڼه غشي یې ویشتو و ته تیار و**
**لوړه پوزه، نرۍ شونډې، سپین غاښونه**
**ټول حکمت پکې موجود د کردګار و**
**هسکه غاړه د هوسۍ په شان ښایسته وه**
**د پاولو او چمګلو پرې شرنګهار و**

**زه طالب عبدالحنان تل ځکه ژاړم**
**چې زما مینه نصیب دا هسې خوار و[۹]**

### ۳: مفتي عبدالحنان داعي

د حنان په نامه دا دریم حنان نومی پښتون شاعر دی، چې دلته پرې بحث کېږي، نوموړي حنان کله د (حنان)، کله د (عبدالحنان)، کله د (مفتي حنان) او کله هم د (عبدالحنان لغماني) په نومونو خپل ځان یاد کړی دی:

**ستا له خانانو سره څه دي چې پرې ګرځې مدام**
**کله د یو، کله د بل په کور کې یې صبح و شام**
**خپل غریبي به دې کوله کښنه کور کې ارام**
**ته په هر چا ګومان د حنان لغماني مه کوه**

یا:

**سر که دې پرې لاړ شي لاس وانخلې له خپل یاره نه**
**ته عبدالحنانه! مه وېرېږه سر د دار په مخ**

مفتي عبدالحنان داعي د عبدالرحمن زوی، د برهان الدین لمسی، په (۱۲٦۰ ل) د لغمان د ده زیارت د غونډۍ په کلي کې زېږېدلی، په خټه لواڼی پښتون دی[۱۰].

عبدالحنان ډېره زیاته شاعري کړې وه؛ کله چې دی مړ شو؛ نو د ده یوه خوریي (محمدسرور سودمند) د نوموړي تیت و پرکه شاعري راټوله کړه، یو لوی پنډ کلیات یې ترې ترتیب کړ، دغه کلیات یې پښتو ټولنې ته وسپاره، اوس د افغانستان د علومو اکاډمي په کتابتون کې په ( ۱۹۸) نمبر ثبت دی، په دغې نسخې کې د اروابناد عبدالحنان هر ډول شعرونه راغلي غزلې، چاربیتې، مقامونه، لوبې، بګتۍ، داستانونه او له دې سره پکې یو څو پارسي غزلې هم شته.

کله مې چې د نوموړي یاده نسخه ولوسته؛ نو دغه حنان نومي شاعر دوه ډوله شاعري کړې:

**لومړی:** دېواني شاعري.

**دویم:** ملي یا ولسي شاعري.

دېواني شاعري یې د (الفبې) په ترتیب منظمه شوې او په همدغو شعرونو کې یې ځای ځای چاربیته یا د ولسي فورمونو نور شکلونه ورځای کړي دي.

د نسخې د سریزې له لوستو او د نوموړي د خپلو شعرونو له ویلو داسې برېښي، چې دی د عبدالرحمان بابا د سبک پیرو دی:

رحمان بابا وایي:

**خوب خندا په بې غمی کېږي رحمانه**
**چې په زړه یې د یار غم وي څه به خوب کا**

مفتي عبدالحنان یې دا ډول پیروي کړې:

**خوب هغه کاندي حنانه چې بېغم وي**
**چې به تا غوندې غمجن ګرځي خواب څه کا**

د نوموړي حنان نومي شاعر په دې وروستیو کې یو نیمګړی دېوان دانش خپرندویې ټولنې ( ۱۳۸۱ل) په پېښور کې، د زرو ټوکونو په شمېر چاپ کړی دی؛ خو بشپړ او کره متن یې تر دې دمه نه دی تیار شوی، په دې وروستیو کې یې ما یوه بله نسخه راپیدا کړه چې دغه نسخه د افغانستان د علومو اکاډمۍ نسخه او چاپ دېوان مې سره مقابله او مقایسه کړل، یو ښه او منظم کلیات ترې جوړ شوي، چې اوس یې د افغانستان د علومو اکاډمي له خوا چاپېږي[۱۱].

د نوموړي حنان له وینا هم معلومېږي چې دی د لغمان اړوند د ده زیارت د غونډۍ د کلي اوسېدونکی دی، په ختیځو سیمو کې د خلکو تر منځ ډېر مشهور دی او د مشهورتیا یو لامل یې دا دی چې ده ډېرې ولسي کیسې او ولسي شاعري کړې، د سندرغاړو په خولو کې تر اوسه هم اورې را اوړي. ډېرې غزلې، بګتۍ او چاربیتې یې ولسي سندرغاړو ویلې دي.

دلته به د پای په خاطر د نوموړي حنان نومي یوه په زړه پورې غزل راوړو:

**دا دې مخ دی چې ځلېږي په نقاب کې**
**هک حیران یم که آفتاب دی په حجاب کې**

**چې امید مې د ختو نشته دلبره!**
**هسې غرق یم ستا د مینې په دریاب کې**
**دا په منځ کې ستا د وروځو مشکین خال دی**
**که امام ناست دی دلبره په محراب کې**
**په رخسار دې پروت عرق دی نه پوهېږم؟**
**که شبنم دی پروت په پاڼو د ګلاب کې**
**درسته شپه باران د اوښکو په ما اوري**
**چې دې تورې زلفې ووینم په خواب کې**

**له خوبانو ګیله مه کوه حنانه**
**دلسوزي ده چا لیدلې په قصاب کې**

**مأخذونه:**


۱: ملاتړ، زکریا. پښتو ادب او طالبان، د افغانستان د علومو اکاډمي، ۱۳٦۵ل.

۲: الفت مجله، دریمه ګڼه، د دانش خپرندویه ټولنې چاپي خپرونه، ۱۳۸٦ل.

۳: د قلندر دېوان، سریزه او ترتیب: سرمحقق زلمی هېوادمل، پښتو ټولنه، ۱۳۵٦ل.

۴: کابل مجله، ۷ او ۸مه ګڼه، په پښتو کې شېر محمد نامي شاعران، ۱۳۹۰ل.

۵: پښتانه شعراء، دویم ټوک، لیکوال: پوهاند صدیق الله رښتین، پښتو ټولنه، ۱۳۲۱ل.

٦: غضنفر، اسدالله، جادوګر هنر، مومندخپرندویه ټولنه، ننګرهار، ۱۳۹۵ ل.

۷: د میرزا حنان بارکزي دېوان، سریزه او ترتیب: محمدمعصوم هوتک، کندهار، ۱۳۷۰ل.

۸: پښتانه شعراء، دریم ټوک، پښتو ټولنه، ۱۳۴۲ل.

۹: پورتنی مأخذ.

۱۰: د مفتي عبدالحنان قلمي نسخه، د علومو اکاډمي مرکزي کتابتون.

۱۱: ځینې شخصي یادښتونه.


## د ژبې پېژندګلوي

د دې اصل څخه د ځان خبرول دي چې ژبه تل په تحول کې ده او په هیڅ وجه د ټولنیز پرمختګ د اغېزې څخه ځان نشي خلاصولای، همدا علت دی چې په ژبپوهنه کې د ژبې بدلون، تحول او انکشاف په اړه اوردې او پرله‌پسې څېړنې رواني دي او دا پروسه به همداسې پرمخ روانه وي.

دا چې د وخت په اوښتلو سره په ژبه کې تحول رامنځ ته کېږي د یوې ژبې د له منځه تللو معنا نه لري؛ بلکې د یوې ژبې د پیاوړتیا د وړاندې تګ ښکارندویې کوي. په ژبه کې د تحول پروسه بېړنۍ سلسله نه ده دا جریان وخت او کلونه غواړي. که چېرې یو نوی ویی(لغت) یوې ژبې ته ننوځي د عامېدو لپاره لږ تر لږه درې لسیزې وخت ته اړتیا لري.

که دې بېلګې ته وګورو؛ نو په ډېرې اسانۍ سره دا ویلای شو چې د کلونو په تېرېدو سره په ژبه کې بدلونونه راځي. په ژبه کې د تېرو وختونو په اړوندو توکو باندې پوهېدل په ربښتیا هم چې خورا ګران دي.

په یوه ژبه باندې د څو زره کالونو په اوښتلو سره کېدای شي چې د هغې په طبعي جوړښت کې بدلون رامنځ ته شي او ویي پانګه یې ډېر تغییر بیامومي. له دې څخه ځکه سترګې نه شو پټولای چې بشري ټولنې په ډېره بېړه سره پرمخ رواني دي او د اقتصادي، سیاسي او فرهنګي برلاسۍ د سیالۍ ډګر ته یې وردانګلي دي؛ خو دغه بهیر (جریان) په عادلانه ډول پر مخ نه دی روان په همدې سبب د ژبو ترمنځ د متقابل تاثیر لړۍ له توپیر څخه خالي نه ده.

ډېرو ژبو ته د لا ښه پرمختګ زمینه برابره شوې او همداسې پرمخ رواني دي؛ خو ډېرې ژبې لا د اور په بټیو کې سوځي، دا ځکه هغه ټولنې چې دا ژبې ورته منسوبې دي د بېلابېلو علتونو له امله د ټولنیز پرمختګ څخه په ډېره ساتل شوې دي او ډېر تاریخي او فرهنګي میراثونه او ویاړونه یې د اور په لمبو کې لولپه شوي دي او دا ټولنیزه غمیزه لا تراوسه پورې دوام لري.

که د ژبې د داخلي تغییراتو څخه تېر شو؛ نو ویلای شو چې ژبني تحولات یا د پرمختګ او یا هم د منفي لاملونو پر اساس منځته راځي. په همدې دلیل د زرګونو کالونو په تېرېدو سره په ژبو کې داسې بدلونونه راتلای شي چې د هغوی د پیل او بنسټ پېژندل یوازې د تاریخي ژبپوهنې له برکته ممکن کېدای شي، لکه څنګه چې موږ ته د یوې ژبې د څو سوونو یا زرونو کلونو پخوانی چوکاټ په ایرو کې پټ برېښي، همداسې به راتلونکو تروړیو(نسلونو) ته د یوې ژبې اوسنی چوکاټ په تیاره کې پروت ښکاري؛ خو د تحول څخه په هیڅ صورت سترګې نشي پټېدلای، ځکه چې ژبه هم لکه نورې کلتوري پدیدې ثابته او په یو حال نشي پاتې کېدای. د دې لپاره چې د یوې مناسبې، ښې او اړینې وسیلې په توګه خپل ځان ثابت کړي باید چې تحول ته غاړه کېږدي او په ورین تندي یې ومني.

## ښه لیکوال کېدای...

ویې لیکئ.

۴- هره ورځ یو څه ولیکئ: که څوک غواړي چې تکړه لیکوال شي؛ نو په دې خبره دې سترګې نه پټوي چې هره ورځ یو څه ولیکي، د ښه لیکوال کېدو لپاره دا چاره اړینه ده. یو لیکوال له تمرینه پرته نه شي کولی چې لوړو مدارجو ته ورسېږي.

۵- بیا ځلې یې ولیکئ: بیا ځلې لیکل د لیکوالۍ مهمه برخه ده چې ستاسې لیکنې په روان او اغېزمن متن بدلوي، دا کار ستونزمن خو ډېر ګټور دی.

٦- الهام واخلئ: د دې کار شرح کول سخت دي، خو د لیکوالۍ مرموزه برخه ده. تاسې نه شئ کولی چې په یوازې ځان د خپلې پنځونې او تخلیق مسؤلیت پر غاړه واخلئ، ښه لیکوال پوهېږي چې څه ډول د خلکو پاملرنه ځان ته را واړوي، په دې هم پوهېږي چې الهام د نوښت لپاره دومره مهم دی؛ لکه ژوندي انسان ته چې سا اخیستل مهم دي.

۷- نرۍ ښو لیکوالانو ته اړتیا لري: د بد لیکوال په نامه څه شته؟ موږ ټولو بې اغېزې او تنبل کسان لیدلي دي، دا هم نه وایو چې هڅه مه کوئ، خو تر هغه چې ښو لیکنو پسې ګرځئ دا احساس به ونه کړئ چې په کافي اندازه ښه یاست. یوازینی څه چې اړتیا ورته لرئ دا دی چې اغېزمن اوسئ او لیکنې مو وضاحت ولري ترڅو لوستونکو یا مخاطب سره مناسبه اړیکه ټینګه کړای شي. که دا کار وکړئ لیکوالي به مو هم غوره شي.

**سرچینه**

https://hoseinghorbani.com.

## د لنډې کیسې د جوړښت...

کې هغه پړاو دی چې دلته باید ټول هغه مقصد، اغېز او تاثر چې د کیسې لیکونکی یې نورو ته رسول غواړي، بشپړ شي. (۱: ۱۴۵مخ)

د یادونې وړ ده چې لنډه کیسه د ژوند بشپړ تصویر نه شي کېدای او کولای شي چې د ژوند یوه برخه شي، نو د همدغې ټوټې د انتخاب له کبله ده، چې لوستونکی له لیکوال سره یو ځای کېږي او د کلام سره یې متناسب نقش لوبوي، په دې توګه په لوستونکي کې هیجان راپاروي. دلنډې کیسې په ټاکل شویو ټوټو کې دوو شیانو ته پاملرنه په کار ده:

لومړی دا چې د ژوندانه د واقعیتونو طرحه باید داسې هنرمندانه وي چې له وچو افکارو سره پوره توپیر او واټن ولري.

دویم دا چې لیکوال په خپله کیسه کې د نصیحت کوونکي او واعظ موقف غوره نه کړي. (۱: ۱۵۱مخ)

د لنډې کیسې لیکوال باید د ژوندانه لوړې، ژورې وپلټي. د ژوندانه تګلاره او کړکېچونه، د انسان پټه دنیا، نامردي او بې رحمۍ په هنرمندانه ډول سره یو ځای کړي او ددغو ګډوډیو ارګانیک اړیکې په څرګند ډول او ژوندۍ توګه وځیري، لنډه دا چې لنډه کیسه باید یوه داسې آئینه وي چې په هغه کې لوستونکی پېښې، خپل چاپېریال، د وګړو کړه وړه، دود او دستور لکه څنګه چې دي، په هماغه شکل سره ووینې.

**مأخذونه**


۱. حقمل، څېړندوی بسم الله. په پښتو ژبه کې داستاني ادبیات،کابل،د علومو اکاډمي،۱۳۹۰ لمریز کال.

۲. سهیم، نور محمد. په افغانستان کې پښتو لنډه کیسه،آزادۍ مطبعه،کابل ۱۳۹۷ لمریز کال.

۳. شینواری، شهاب. د لنډې کیسې د لیکلو لس غوره لارې چارې،کابل، ۱۳۹۸ لمریز کال.

۴. هاشمي، محی الدین. د لیکوالۍ فن، میرویس کتاب پلورنځی،پېښور ۱۳۹۳ لمریز کال.

# زېرى

د تاسیس کال ۱۳۱٦ هجري شمسي

علمي- څېړنيزه او ادبي پنځلس ورځنۍ جريده

د کتونکې ډلې تر نظر لاندې
مسؤل مدير: څېړندوی احسان الحق
مهتمم: څېړنيار ياسرپاچا
د يوې ګڼې بيه: پنځه افغانۍ

د اړيکو شمېرې: ۰۷۴۴۴۸۷۳۳۵
۰۷۰۴۹۸٦۰۳۳
برېښناليک: zerai1316@gmail.com
پته: د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبياتو مرکز، زنبق څلور لارې، نوی ښار
کابل—افغانستان

د افغانستان د علومو اکاډمي
د ژبو او ادبياتو مرکز خپرنيز ارګان

• په زېري جريده کې له سرليکنې پرته، د نورو ليکنو سپيناوی په خپله د ليکوالو پر غاړه دی.

د ۱۳۹۹ ل.کال چنګاښ(سرطان) میاشت | ۷- ۸مه ګڼه | پرله پسې ۳۵۱- ۳۵۲مه ګڼه


## د لنډې کيسې د جوړښت توکي




محمد موسی حساس


د لنډې کيسې له نوم څخه معلومېږي چې لنډه ده. لنډه کيسه يا Short Story هغه نثري داستان دې چې لنډ وي او له نيم ساعت څخه تر دوه ساعتونو پورې ختم شي په فنی او تکنيکی لحاظ پوره او سم وي.

په يوه بله پېژندنه کې لولو: لنډه کيسه د نثري کيسو يو قسم دې چې عناصر يې داسې د يو بل سره تړلي وي، چې يو د بل تر اغيز لاندې وي. (۴: ۸۱مخ)

ابراهيم يونسي په خپل اثر ((هنر داستان نويسي)) کې کيسه يې داسې تعريف کړې ده: لنډه کيسه، يوه لنډه ادبي نوعه ده، چې په هغې کې ليکوال د يوې منظمې طرحې په ملګرتيا، اصلي شخصيت په يوه رښتينې پېښه کې ښايي.

د لنډې کيسې د پيدايښت په هکله بايد ووايو چې لنډه کيسه د لمړی ځل لپاره په نولسمه پېړۍ کې په اروپا کې پيدا او له هغه ځايه د نوري نړۍ ادبياتو ته لاره موندلې ده، ((په غرب کې د ادګارالنپو(۱۸۰۹-۱۸۴۹ ) او ګوګول (۱۸۵۲-۱۸۰۹) لخوا رامنځته شوه چې دوی ته د لنډو کيسو د پلرونو خطاب هم کيږي، ادګارالنپو د لومړي ځل لپاره د لنډو کيسو لپاره يو شمېر انتقادی اصول او ضوابط طرح کړل او ګوګل لومړنی ليکوال و چې لنډه کيسه يې واقعي ژوند ته وګمارله او خپل کرکټرونه يې د ټولنې له محرومو خلکو او تحقير شوو څخه راوټاکل او د هغوی د ژوند ګوډې او ماتې يې پکې تصوير کړې.))(۲: ۵مخ) دغه نثری ادبي فورم بيا له انګرېزي ژبې نه اردو او بيا له هغې نه د شلمې پېړۍ په لومړيو کې پښتو ادب ته راغلی دی لومړنی پښتون ليکوال چې په دغه ډګر کې يی کار کړی سيد راحت زاخيلي دی چې د کونډې نجلۍ په نوم يې يوه لنډه کيسه په (۱۹۱۷ز) کال کې ليکلې ده.

په بره پښتونخوا افغانستان کې استاد عبدالحی حبيبي د لومړي ځل لپاره لنډه کيسه (تورپيکۍ) د طلوع افغان په (۱۳۱۴ل) کال په ګڼو کې چاپ کړې ده.

لنډه کيسه له لاندې برخو نه رغېدلې وي:۱. پلاټ(طرحه)، ۲. پيلامه، ۳. کرکټر(کردار)، ۴. تلوسه(تجسس يا سسپنس)، ۵. منظر کشي او مکالمې، ٦. تخيل يا خيال پردازي، ۷. د کيسې لوړ ټکی، ۸. انتباع او پايله. (۴: ۸۴مخ)

۱. پلاټ (طرحه – خاکه): په کيسه کې د راغلې پېښې او واقعې طرحې يا خاکې ته پلاټ ويل کېږي. يا پلاټ د کيسو د پېښو تسلسل دی چې ټوله کيسه به په دغه طرحه باندې ولاړه وي.

۲. د کيسې پيلامه: د هرې چارې پيلامه تر ادامې ګرانه وي او بايد چې له پوره غور او فکر نه پکې کار واخيستل شي او يا په بله معنا ليکوال چې کله وغواړي کيسه وليکي دا به په هغه پورې اړه لري چې خپله کيسه د کوم ځای او په څه ډول پيل کړي.

۳. کرکټر يا د کيسې کردار(قهرمان): هغه څوک دی چې په خپلو کړنو او ويناوو پېښه او کيسه رامنځته کوي، کرکټر له ستونزو- خنډونو سره د مقابلې او مجادلې په ډګر کې له بېلابېلو حالتونو او پړاوونو سره مخامخ کيږي، غورځي پرځي، خو په خپل ټول وس او ځواک د هدف په لور له وړاندې تګ څخه لاس نه اخلي.

د يوې لنډې کيسې په پېښه کې کېدای شي له يوه څخه زيات اشخاص يا په بله وينا کرکټرونه را څرګند شي، خو مرکزي کرکټر پکې هغه وي چې د پېښې جزئيات په مجموع کې د هغه په شاوخوا څرخي، دا مرکزي کرکټر د پېښو د جزئياتو په جريان کې ورو- ورو را برسېره کېږي او بيا يوې نتيجې ته رسېږي. (۴: ۸٦مخ)

۴. تلوسه: لنډه کيسه کې تر ټولو مهم او ضروري توکی تلوسه يا سسپنس دی چې دغه سسپنس کولای شي لوستونکي د کيسې تر پايه پورې له ځانه سره بوځي او لوستونکي ته پوښتنې را ولاړېږي چې دا ولې؟ او څنګه وشول؟ نو د دې سوالونو د ځواب پيدا کولو لپاره له کيسې څخه تر پايه خوند اخلي او تلوسه ورسره وي چې کله خپلو سوالونو ته ځوابونه پيدا کوي.

يا ويلی شو چې يوه ښه کيسه بايد تلوسه (سسپنس) ولري چې دغه تلوسه لوستونکی دې ته اړ کوي چې کيسه تر پايه پورې ولولي.

د بېلګې په توګه : «کله چې احمد کورته دننه شو، له کوټې څخه د ډزو آواز راغی، نو احمد په منډه د کوټې خوا ته ورغی، ګوري چې کشر ورور يې زخمي پروت دی او يو کس د انګړ څخه په منډه د کوڅې خوا ته روان و» (۳: ۳مخ)

په دغه دوو جملو کې يو څه تلوسه شته، لوستونکي ته تلوسه پيدا کېږي او سوالونه را ولاړېږي چې د احمد ورور چا په ډزو وويشت؟ ولی يې وويشت؟ او داسې نور ډېر سوالونه او همدغه سوالونه ددې سبب ګرځي چې لوستونکی تر پايه پورې دغه کيسه ولولي.

۵. مکالمې او منظر کشی: مکالمې د مرکزي کردار او نورو فرعي کردارونو په عادتونو او حالتونو رڼا اچوي او کيسه مخکې بيايي، څومره چې په کيسه کې دغه برخه طبيعي او ځواکمنه وي هومره کيسه ښه ګڼل کېدای شي.

منظرکشيو نه د کرکټرونو حالات او د پېښو تداوم ترې څرګندېږي او کيسه مخ پر وړاندې بيايي او د کيسې خوند اضافه کوي.

٦. تخيل (خيال پردازي): ليکوال د خپل تخيلي ځواک په وسيله د خپل ذهني تخليق پېښې او کردارونه موږ ته په داسې ښه راوړاندې کوي چې بالکل واقعيت ته نږدې وي. په بل عبارت تخيل نه کيسه کې د پېښو په انځورولو او د کيسې په بيان کې کار اخيستل کېږي.

۷. د کيسې لوړ ټکی(Climax): هغه دی چې ستونزې او ربړې د حل پړاو ته رسي او غوټې يو په بل پسې خلاصېږي.

۸. د کيسې پايله: دا هغه پړاو دی چې دلته بايد د ليکوال هغه ټول مقصد، اغېزې او پيغام چې ليکوال يې لوستونکي ته رسول غواړي، بشپړ شي او بيا لوستونکي په خپله قضاوت وکړي. په بله وينا هره پېښه چې په کيسه کې وړاندې کېږي خامخا به پيل، اوج او پای لري، د کيسې پېښه د کرکټرونو (کردارونو) د مکالمو، اعمالو، افعالو او منظرکشۍ په وسيله ورو ورو پرمخ ځي، ناڅرګند اړخونه يې څرګند او اچول شوې غوټې خلاصېږي، تر څو روان کشمکش وروستي پړاو ته ورسېږي او دا په واقعيت ۳مخ

## د فرهنګي او ادبي خبرونو پېښليک




څېړنوال محمد آصف احمدزی


### پسته ګل دوديزه کلنۍ مشاعره جوړه شوه

دا ځل په بادغيس کې پسته ګل دوديزه کلنۍ مشاعره د کرونا وژونکې ناروغۍ له امله د چنګاښ په لومړۍ نېټه په آنلاين ډول ترسره



شوه چې د ۵ ولايتونو شاعرانو په کې په آنلاين ډول شعرونه وويل.

په دې مشاعره کې شاعرانو د وطن په تړاو خپل شعرونه وويل چې له تاوده هرکلي سره مخامخ شول.

سرچينه: «د کندهار اطلاعات اوفرهنګ رياست» فېسبوک پاڼه.

### موج آمو دوديزه کلنۍ مشاعره جوړه شوه

د بلخ ولايت د موج آمو دوديزه، کلنۍ مشاعره د بلخ او د هېواد د ۲۰ ولايتونو د شاعرانو ترمنځ



په لنکن ښوونيز مرکز کې د بلخ د اطلاعاتو او فرهنګ رياست له خوا د چنګاښ په ۵مه په آنلاين ډول ترسره شوه.

سرچينه: «د کندهار اطلاعات او فرهنګ رياست» فېسبوک پاڼه.

### هلمند سيند کلنۍ مشاعره انلاين ترسره شوه

د هېواد د بېلابېلو شاعرانو په ګډون د هلمند سيند مشاعره په انلاين ډول د چنګاښ په ۵مه ترسره شوه.

که څه هم هر کال د سلګونو کسانو په ګډون د هلمند سيند دوديزه مشاعره په خورا جم او جوش او شانداره ډول سره په يوه پراخه ساحه کې ترسره کېدله، خو د کرونا ويروس له کبله سږکال يواځې په يوه کوټه کې د ګوتو پر شمېر کسانو په ګډون جوړه شوه.

په دې مشاعرې کې د هلمند د لسګونو نارينه‌وو او ښځينه‌وو شاعرانو په ګډون د بېلابېلو ولايتونو اديبانو او شاعرانو پر کړښه وو.



د بلخ، پکتيا، کندهار، نيمروز، لوګر، لغمان، ننګرهار، خوست، پروان او فارياب ولايتونو څخه شاعرانو عشقي وطني، حماسي او د سولې اړوند شعرونه او نظمونه وويل چې پر فېسبوک هم په ژوندۍ بڼه خپرېدله.

سرچينه: مدثر دعوت، https://yaraan.com/helmand-sind-kalanai-mushaira/.

### چنار مشاعره انلاين ترسره شوه

د خوست د اطلاعاتو او فرهنګ رياست او لنکن ښوونيز مرکز په همکارۍ په خوست کې د چنار کلنۍ مشاعره په انلاين ډول د چنګاښ په ۱۵مه ترسره شوه چې د خوست پر شاعرانو سربېره د کوزې پښتونخوا وتلي شاعر ګوهر وزير او د بېلا بېلو ولايتونو شاعرانو په انلاين ډول په کې شعرونه او غزلونه واورول.

سرچينه: «د کندهار اطلاعات او فرهنګ رياست» فېسبوک پاڼه.

### پيوند آنلاين مشاعره جوړه شوه

پيوند آنلاين مشاعره په لومړي ځل د افغانستان او تاجکستان شاعرانو ترمنځ د کندوز ولايت د اطلاعاتو او فرهنګ رياست او لنکن ښوونيز مرکز په همکارۍ په آنلاين ډول د چنګاښ په ١٦مه ترسره شوه.



د کندوز پر شاعرانو سربېره د تاجکستان وتلي شاعر علي محمد مرادي او د ګڼو ولايتونو شاعرانو په انلاين ډول په پيوند کلنۍ مشاعره کې شعرونه، ترنمونه او غزل‌ونه واورول.

سرچينه: «د کندهار اطلاعات او فرهنګ رياست» فېسبوک پاڼه.

### سمسور لغمان دوديزه آنلاين مشاعره ترسره شوه

سمسور لغمان دوديزه پسرلنۍ مشاعره چې نور کلونه به د هېواد او کوزې پښتونخوا د نوموتو شاعرانو په ګډون کېده، سږ کال د کرونا له امله په آنلاين ډول د چنګاښ په ۱۸مه ترسره شوه.



په دې پر کرښه غونډه کې د پکتيا، بلخ، کندوز، کندهار، پنجشېر، پروان، سمنګان، نيمروز او د امريکا متحده ايالاتو څخه شاعرانو خپل له هنره ډک شعرونه په آنلاين ډول ولوستل.

### د سولې په نوم آنلاين مشاعره جوړه شوه

د لومړي ځل لپاره د افغانستان د شلو ولايتونو شاعرانو او ليکوالو لپاره د سولې پروسې په ملاتړ انلاين ويډيويي مشاعره د هرات د اطلاعاتو او فرهنګ رياست له خوا د چنګاښ په ۲۱مه جوړه شوه.

سرچينه: «د کندهار اطلاعات او فرهنګ رياست» فېسبوک پاڼه.

### کونړ سيند کلنۍ مشاعره تر سره شوه

د کونړ سيند کلنۍ مشاعره چې هر کال به د ثور په مياشت کې په حضوري ډول کېده، د هېواد له بېلابېلو ولايتونو څخه به په کې ګڼو




شاعرانو او مينه والو ګډون کاوه، د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د رهبرۍ په لارښوونه د هېواد د نورو ولايتونو د دوديزو مشاعرو په څېر د کرونايي تهديدونو له امله په انلاين ډول د چنګاښ په ۲۴مه تر سره شوه.

مشاعره د هېواد د وتلي شاعر پيرمحمد کاروان په شعر پيل شوه، ورپسې د لرې پښتونخوا نه وتلي شاعر ډاکټر اباسين يوسفزي، عارف تبسم او الماس خانم، د هېواد له بېلابېلو سيمو نه نومتو شاعرانو نورالحبيب نثار، عبدالحليم همت، طاهر شرر ساپي، څو تنو کونړ مېشتو شاعرانو، د پکتيا، خوست، لوګر، هلمند او لغمان خوږ ژبو شاعرانو خپل شعرونه زمزمه کړل.

شاعرانو په هېواد کې روان تاوتريخوالی د شعر په ژبه وغانده او د سولې ارزښت يی بيان کړ. همدارنګه يې د ژر تر ژره د اوربند او د سولې د خبرو د پيل غوښتنه وکړه.

سرچينه: د «کونړ اطلاعات او فرهنګ رياست» فېسبوک پاڼه.

### ليکوال او شاعر مغدود ساپی مړ شو

د کونړ ولسي او انقلابي شاعر مغدود ساپی د ۱۳۹۹هـ. ش کال د چنګاښ په ۲٦مه (د ۲۰۲۰ کال د جولای ۱٦مه) وفات شو.



د کونړ د اطلاعاتو او فرهنګ رياست له خوا د نوموړي د مړينې له کبله د خواشينۍ په پيغام کې راغلي چې د کونړ ولسي، انقلابي، خوږ ژبي، په عمر سپين ږيري، خو په طبعه ځوان او حاضر ځوابه شاعر مغدود ساپي د خپل ژوند ډېر کلونه د فرهنګ او ادب په چوپړ کې تېر کړل او په دې لاره کې يې هڅې او کوښښونه د قدر وړ دي.

سرچينه زياتوي، د خدای بښلي مغدود ساپي شعر و شاعري د خلکو په منځ کې ځانګړی درنښت او ځای لاره، دا نه يواځې د کونړ، بلکې د هېواد په کچه پېژندل شوی ژبور شاعر او ټولنيز شخصيت و، د جګړې او فساد کلک مخالف، خلک يې زغم، پخلاينې او سولې ته هڅول او د هېواد وده او پرمختګ يې ستر ارمان و.

### تازه چاپ شوي آثار




**د پښتنو د شجرې تاريخي ريښې:** دا کتاب زمري محقق ليکلی او په کندهار کې علامه رشاد خپروندويې ټولنې په ۵۰۰ ټوکو کې چاپ کړی دی. پر دې کتاب چې ۱۳٦ مخه دی، ډاکټر لطيف ياد او عبدالعلي رسولزاده تقريظونه کښلي دي.




**پتيرا او يوش مکالمې:** د پوهنمل سيد اصغر هاشمي تخليقي اثر دی. په ننګرهار کې هاشمي خپرندويي ټولنې چاپ کړی دی.